د افغانستان اسلامي جمهوریت
جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

Islamic Republic of Afghanistan
Afghanistan Land Authority

# مطبوعاتي اعلامیه

## شاوخوا سل زره جریبه دولتي ځمکه سروې شوه

د افغانستان د ځمکو اداره په وروستۍ یوه میاشت کې د دولتي ځمکو د معلوماتي بانک له لارې ۹۹ زره و ۲۲۴ جریبه دولتي ځمکه یې په ۲۸ ولایتونو کې سروې کړې ده.

دغه لړۍ اوس هم د ۲۸ ولایتونو په کچه د ۱۰۷ مسلکي او تجربه لرونکو کارکونکو له خوا بر مخ وړل کیږي.

له پر مختللي ټکنالوژۍ څخه په کار اخیستو د دولتي ځمکو او د دولت تر استفادې لاندې د عامه ملکیتونو ثبت، د دولتي ځمکو کره احصاییې ته د حکومت او خصوصي سکټور لاسرسی، د لویو ملي، پراختیایي او اقتصادي پروژو طرح او تطبیق، د کورني او بهرني پانګونې جذب، د ملي عوایدو زیاتول، د کاري فرصتونو برابرول، د ځمکو له غصب څخه مخنیوي او د نورو ټولګټور پروژو تطبیق د دولتي ځمکو د معلوماتي بانک له موخو څخه شمېرل کیږي.

د هیواد په تاریخ کې دا لومړی ځل دی، چې د دولتي ځمکو د معلوماتي بانک طرحه د افغانستان د ځمکو اداري لخوا د جلالتمأب جمهور رییس محمد اشرف غني په لارښوونې جوړ او په ۲۸ ولایتونو کې یې عملي چارې پیلیږي.

د دولتي ځمکو معلوماتي بانک طرحه د ځمکوالۍ د قانون لسمې، یوولسمې او دولسمې مادې څخه جوړ او د روان کال په اتمه نېټه د جمهوري ریاست عالی مقام ۲۲ حکم پر اساس منظور شوې ده.

------------------------------


د لا زیاتو معلوماتو لپاره
حشمت ناصري – د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس
د افغانستان د ځمکو اداره
مبایل: ۰۷۰۵۵۰۰۵۵۵
برېښنالیک: Hashmat.nasiri@arazi.gov.af